# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com        afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



داحمدشاه وردگ ژباړه :


۰۴ جون ۲۰۱۲

# پکن او واشنګتن ، دیو بل ډارولو لوبه

دچین بریښنادوله پرمختګ، واکمن ځواکونه په ډار کې اچولي او ددې هیواد اړیکې دامریکې دمتحده ایالتونو سره پیچلې کوې. واشنګتن په ظاهره ددې چټک پرمختګ پروړاندې غبرګون ښيي، چې کیدای شي داکار دچینایانو لخوا دیرغل په توګه وانګیرل شي او د متقابلو کړو لپاره یې وهڅوي.

په تیره لسیزه کې دچین کورنۍ ناخالصه تولیدات لس واری دامریکې دمتحده ایالتونو څخه چټکه وده کړې ده. ددې ودې میزان له ۱۱۰۰ ملیاردو ډالرو څخه په ۲۰۰۰ کال کې ۵۸۸۰ ملیاردو ډالرو ته په ۲۰۱۰ کال کې رسیدلې ده، دا په داسې حال کې چې دامریکې دمتحده ایالتونودکورنیو ناخالصه تولیداتو وده له ۱۰۰۰۰ ملیاردو ډالرو څخه ۱۴۶۰۰ ملیاردو ډالرو ته پورته شوې ده. په اوس وخت کې دچین اقتصاد دامریکې څخه ډیر وروسته دی ولې دچینایې کارپوهانو په آند په یوه شل کلنه دوره کې به ددې هیواد اقتصاد دامریکې څخه مخکې لاړ شي.

چین په چټکۍ سره دیوه زبرځواک(ابرقدرت) په ټولو وسایلوځان سمبالوي. په ۲۰۱۱ کال کې دچین دفاعي بودجه ۹۱.۷ ملیارده ډالره وه، چې له جاپان څخه ۸۰ سلنه او له هند څخه ۲۰۰ سلنه اوچته وه. په دې ترڅ کې دامریکې دمتحده ایالتونو سره واټن هم لږ شوی دی: دسړی سر نسبت چې په ۲۰۰۰ کال کې یو په شلمه و، اوس یو په اوومې ته رارسیدلی دی. په داسې حال کې چې واټن اوس هم ډیر دی، له دې وروسته چین په پوځي ډګر کې د لګښتونو پربنسټ په دوهمه درجه کې دی، ولې که واشنګتن اړ وی چې د پوځي لګښتونو دکمولو سیاست پرمخ بوزي دغه واټن به نورهم لږشي. د۲۰۰۰ لسیزې راپدیخوا ددواړو هیوادونو ترمنځ اړیکې خړې شوې دی. دچین دخپلو بهرنیو پانګې اچونې څخه یوپه دریمه برخه دامریکې په بانکونو کې پانګونه کوي چې دامریکې په تر ټولو لوی پورورکونکو بدل شوی دی. دنړۍ په ستر صادرونکي هیواد دچین اوښتل ، امریکې ته دکالیو په رسولوکې چین ددې هیواد په ترټولو لویوتامینونکو باندې بدل شوی. کوم کار چې دامریکې سره مرسته کوي ترڅو دخپل اقتصاد پړسوب( تورم) مهارشوی وساتي.

د۲۰۰۸ کال دمالي بحران څخه راپدیخوا چین پرته له دمې په نړیواله صحنه کې خپل رول او دامریکې سره خپلې اړیکې ټینګې کړې دی. په ۲۰۰۹ کال کې دکوپنهاګ په ناسته کې دکاربن دتولیداتو دکمښت د محال ویش پر سر

چین دامریکی سره په مخالفت کی راولاړ شو. په همدی کال کی دچین سمندری ځواکونو دامریکی یوه جنگی بیړی چی دچین په اقتصادی انحصاری سیمه کی ددی هیواد په جنوبی سمندرگوټی کی په گشت لگیا وه ، کلابنده کړه. په ۲۰۱۰ کال یوځل بیا چین دامریکی پروړاندی په ټول ځواک مقاومت وکړ چیرته چی امریکی غوښتل شمالی کوریا په دی وغندی چی دجنوبی کوریا د بیون پیونگ په ټاپو یی یرغل کړی و. چین په داسی حال کی چی دایران دتیلو پروړاندی بندیزونو ته پام کوی او له ځانه ډیره سختگیری ښیی، ولی دتهران دهستوی پروگرام پروړاندی، سرغړوی.

دچین او امریکی داړیکو پروړاندی خنډونه له شماره وتلی: دترهگری پروړاندی جگړه، د ډله ایزو وسلونه خپریدل( لړترلړه ترټاکلی پولی پوری، څرنگه چی دکوریا ددموکراتیک جمهوریت په هکله دنظرونو توپیر، روښانه بیلگه ده) یا دمالی بحران دزور کمول. ولی په اوس حال کی لانجمنی خبری ډیر دی. په اقتصادی ډگرکی، واشنگټن پکن دامریکایانو«شغلونو» په غلاتورنوی چیرته چی په یوه ناسالم حرکت سره دخپلو پیسو ارزښت راټیټوی او دآزاد بازار قوانین تر پښو لاندی کوی. په یوځی ډگر کی واشنگټن له دی څخه ویریږی چی چین په وسله واله مسابقه کی خپل ځواکونه دآسیا په وچه کی په آرام سمندرگی کی ځای پرځای کوی. په ایډیولوژیکه برخه کی هم دواشنگټن لپاره ستوزمنه ده چی دا ومنی چی د«پکن توافق۱-» به د «واشنگټن دتوافق» سره سیالی وکړای شی.

په همدی حال کی، دامریکی ټولنه د شغل(دکار ځایونه) دلاسه ورکولو او په تولید کی دماینونو دځای پرځای کولوسره مخ ده، دغه کارترهرڅه دمخه داقتصادی لیبرالیسم چی دډیری گټی غوښتونکی دی په پایله کی رامنځ ته شوی. له دی څخه پورته نه یوازی دچین او امریکی ترمنځ سیالی، بلکه په ټولیزه توگه د صنعتی هیوادونواو مخ پرودی هیوادونو ترمنځ هم سیالی روانه ده اود «یوآن –دچین پولی واحد» دارزښت رالویدنه کم اهمیته ده ځکه چی تولیدات کولای شی ځای پرځای شی او ویتنام، بنگلدیش او هند ..... ته ولیږدول شی. ټول په دی ټکی پوهیږی ولی په امریکه کی د انتخاباتو په کال هر څوک خپل ساز ږغوی.

## کمزوری اندیوالی

دکړنلاری له مخی، متحده ایالتونه دچین دځواک ډیریدو ته په بده سترگه گوری. دچین هوایی ځواک د مدرن کولو په حال کی دی، همدااوس چین داسی بمب غورځونکی لری چی دخارگریزو او د آواکس د هوایی بولندویی(فرمانبرداری) الوتکو، په هوا کی د سون رسونکوالوتکو او الوتکه وړونکو عملیاتی بیړیو درلودنکی دی. فضایی برنامه چی ددفاعی برنامی یوه برخه ده پوره ځواکمنه شوی او سمندری ځواکونه هم په متعارفو(پیژندل شویو) هسته ای وسله تونونو سمبال ده چی لیری سیمی تر پوښښ لاندی نیسی. په مجازی فضا کی دچین پورته غورځیدل هم باید له پامه ونه غورځول شی. دی همدی لپاره پنتاگون خپل ځواکونه له عراق او افغانستانه راباسی ترڅو یی په ختیځه آسیا کی ځای پرځای کړی. پنتاگون له خپلو نویو اندیوالانو سره گډ کارکوی ترڅو دچین په سوویلی سمندرکی دچین دسمندری ځواکونو دوړتیا کچه معلومه کړی (۲).

پریزیدنت اوباما سپینی ما نی ته دورتگ سره سم ، دچین سره دمخامخ کیدو پرځای په دیپلوماتیکو لارو چارو ټینگار کاوه. دغه کړنلاره په خاصه توگه دبرما(میانمر) په هکله چیرته چی جمهورریس تین سین خپل هیواد یو څه دموکراتیزه کړ، ښه پایله درلوده. دجاپان ، فیلپین، کوریا او ویتنام سره دیوځی مرستو موخه هم ددی ایډیالوژیکو کړنلارو په رڼا کی ترسره کیږی.

دچین پرمختګ دومره دحیرانتیا وړ هم ندی. داکار دتاریخ دلوری سره سم روان دی او دلومړیو څخه چی چین خپله تولنه دآزاد بازار پر مخ پرانیستله او هغه هم په داسی حال کی چی نړیوال کیدنه د انسان ، پانګی او اطلاعاتو دلوړوالی په سیالی اوښتی ده، خوامخوا چین باید له هرڅه تیر شوی وی، ځکه پکن دهیچا کوپری ته وسله نده نیولی. امریکایی پانګه اچونکو ددی موکی نه په ګټه اخیستنه سره ټینګ بیه انسا نی ځواک لاس ته راوړ. په داسی حال کی چی چینایانو خپل اقتصاد ته وده ورکوله امریکایانو په ډیره ښه بیه [کالی] مصرفول او دلړلو کارخا نی یی نورو سیمو ته ولیږدولی، دغه راکړه ورکړه دپام وړ ګټی درلودی، په داسی حال کی چی په اوږده محال کی یی په امریکه کی د« شغل» دکم والی او په چین کی دچاپیریال دکړکړوالی ستونزی له ځان سره درلودی.

په دی توګه پکن او واشنګټن دیوی کمزوری (غریبی) اندیوالی بنسټ کښیښود: داسی چی چین خپل چاپیریال ککړوی ترڅو امریکی ته امکانات په لاس ورکړی چی سپما وکړی، ولی په بدل کی دامریکایانو دخزانو ورقی رانیسی ترڅو دوی ته موکه په لاس ورکړی چی خپلی پانګی په عراق او افغانستان کی حیف اومیل کړی.

په ۲۰۰۱کال کی کله چی پریزیدنت جرج ډبلیو بوش واک ته ورسید نو د ۵۰۰۰ ملیاردو ډالرو پورورته په میراث پاته شو. دده دجمهوری ریاست دپای ته رسیدو سره دا پور ۱۰۰۰۰ ملیاردو ډالرو ته ورسید. ددریو کلونو څخه په لږه موده کی دغه پور پریزیدنت اوباما خپلی تاریخ کچی ۱۵۰۰۰ملیاردو ډالرو ته ورساوه. که چیری چین په دی مالی ناورین کی ونده لری خو ددی ناورین قربانی هم دی. ۱۱۵۰ ملیارده ډالره دخزانی ورقی چی چین راینولی دمالی بحران ددرانده پیتی څخه یو څه راکم کړی کوم کار چی امریکی ته اجازه ورکړه ترڅو دافغانستان په لوړ بیه جګړه کی بر لاس اوبر وزر ولری. همدی نقدو پیسو امریکی ته موکه په لاس ورکړه ترڅو اړینی مالی سرچینی پیداکړی، په داسی حال کی چی دچین پواسطه درانیول شویو ډالرو بیه یی را ټیټه کړه. داسی ناسالمه پییل(وابستګی) چی له دی څخه به نور هم کړکیچن( وخیم) شی.

په دی توګه دانډول برابرول یو اړین کارګڼل کیږی. دا به دچین په ګټه وی چی په کورنیو بازارونو کی لګښتونه(مصرف) ته وده ورکړی، چاپیریال ته پاملرنه وکړی او دخپلی تلی مازاد له خپل شریک(امریکی) سره راټیټ کړی. دامریکی لپاره به ښایی په ګټه وی چی دخپلو تولیداتویوه برخه په خپله خاوره کی له نوی پیله په لاره واچوی ترڅو دمالی او صنعتی چارو ترمنځ انډول منځ ته راوړی. همدارنګه دامریکی مشران باید ومنی چی چین ته دتولیداتو لیږد ډیره ګټه درلوده ولی ددی ترڅنګ یی ټولنیزو نا انډولیو ته نوره ژورتیا هم ورکړی کومی چی ددوی داخلاقی معیارونو سره په ټکرکی دی او آن تردی چی دراکړی ورکړی آزادی یی هم تر پوښتنی لاندی نیولی ده.

له بلی خوا دواړه هیوادونه دکړنلارودپلی کولو یو شان ځواک نلری. متحده ایالتونه په نړی دخپتی اچونی په هیله ددی وړتیا لری چی په ټوله نړی کی پوځی ځواک خپور کړی ، کوم څه چی دډیری مودی لپاره دچین په هکله نشی تر سترګو کیدای.

د۲۰۱۱ کال په پای کی امریکی پریکړه وکړه چی خپلی نوی وسلی په تایوان وپلوری، په داسی حال کی چی د ۲۰۱۱کال دسپتامبرپه ۶ نیټه دچین داطلاعاتو وزیرد« دچین دسوله ایزی پراختیا» په نامه یو یادداشت خپورکړ په کوم چی دچین ۶ ملی اولویتونه په ګوتو شوی و او دهغی په ډله کی دچین دخلکو له جمهوریت سره دتایوان یوځای کیدل هم شامل و. پکن په خپلو سیمو او تنګی دخپلی ولکی غوښتونکی دی. هغه موخه چی نړیوال کیدنه یی وړتیاوی اړینی بولی.

## تایوان ټاکونکی ټکی

دواړه هیوادونه وروسته له دی دنښتو او مخامخ کیدو په منطق کی اوسیږی. په تایوان دوسلو خرڅلاو چین دخپلو وسله تونونو مدرنولو ته هڅوی. له بلی خوا دچین پوځی توب دهغی پروړاندی دامریکی دبدبنیو کچه نوره هم لوړوی چی دخپلو سیمو نه په هاخواکی یی دولکی ټینګولو لپاره ترسره کوی. آیا چین به دخپلو سمندری غاړو ددفاع اوپه بهرکی دپوځی ځواک دنه کارولوپریکړه تر پښو لاندی نکړی؟ چین داسی الوتکی جوړوی چی کارول یی په سیمه پوری تړلی ندی، دعدن په خلیج کی جنګی بیړی ځای پرځای کوی اوپه بهر کی د لوجیستیکی پایګاو غوښتونکی دی.

دی نښو دسیمی په اوبو او فضا کی امریکه دخپلو څارګریزو ماموریتونو په څوواره کولوته هڅولی ده. په تایوان کی دمداخلی په صورت کی دخپلو پوځی عملیاتو د ملاتړ لپاره، منځنی امپراتوری دخپلو اقتصادی انحصاری سیمو څخه دامریکایی بیړیو او الوتکو دشړلو لپاره تابیا نیولی ده.

ډیر ګزارشونه دچین له هغه نیت نه پرده پورته کوی دکوم پربنسټ چی سویلی سمندرد چین په ملی ګټو کی شمیری. دغه کړنی او دجاپان(۴) او سویل کوریا پروړاندی دچین سیاست تردیره آسیا ته دامریکی دبیرته راتګ دلایل روښانه کوی. دی سیاست امریکی ته دچین په سمندر کی دآزاد تګ راتګ بهانه په لاس ورکړی.

داکړنلاره دوی موخی لری: په سیمه کی دامریکایی ځواکونو پیاوړتیا او په آرام سمندرکی دنړیوالو قوانینودهرډول ماتیدنی مخنیوی دی. په ریښتینی توګه دسمندرګی په پورتنی خواکی ددواړو هیوادونو ګټی همغږی دی او دواړه هیوادونه دآزادی دراشه درشه ښکاره حقونه لری. په دی توګه هیڅ دلیل نشی پاته کیدای چی چین دی دامریکی دپوځی شتون پروړاندی ترڅوچی یی یو دبل دلیکو دپریکړون هڅه نوی کړی، حساسیت وښیی. ستونزه ددواړو غاړو دحقوقو او دندو په ترسره کولو کی ده. متحده ایالتونه دی ځان دچین دبنسټیزو حقونو پروړاندی متعهد کړی. ددواړو ځواکونو ترمنځ انډول راوستل به ددی لسیزی ترټولو لوی داو وی.(پای)

لمنلیکونه :

۱-هغی تړون ته ګوته نیسی چی دبازارونو خپلواک کیدل، ددولتی شرکتونو خصوصی کونه او نوری هڅونی چی بهرنی پانګه اچونه آسانه کړی.

۲- داقتصادی پراختیا چینی مډل ته اشاره شوی.

۳-دلوموند دیپلوماتیک د۲۰۱۲ کال دمارچ « پنتاګون دآرام سمندر په لوری ځی» مقالی ته اشاره شوی چی د میکاییل کلر پواسطه لیکل شوی.

۴- په ۲۰۱۰ کال دجاپان یو اوبتل دیوی چینایی بیړی سره وجنګید اویوه لویه پیښه یی رامنځ ته کړه. دجاپان ددولت په آند داکار چینایانو له قصده کړی و.

د ۲۰۱۲کال دمی میاشت